مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۴/۰۴/۲۳

لنډی، د ثبتولو ستونزه

۲۸۲مه برخه

د دله ګانو په اختیار یم
کیسې یې اورم سترګې ښکته ګرځومه

کراره شپه ده مسافر یم
ته را یادېږی څنګه سترګې پټې کړمه

څوک په وطن پسې ړانده شول
څوک په وطن کې د وطن غیبت کوینه

د دې برخې له پاره دا نوې لنډې راټولې شوې دي:

ته لږ بهر ورته راووځه
سپوږمۍ د ځان صفت کوي چې ښکلې یمه

د بادشاهي لایقه یاره
ستا پر تندي ګردونه زړه سوری کوینه

څوک په وطن پسې ړانده شول
څوک په وطن کې د وطن غیبت کوینه

لالا یې توروخاور وخوړ
خور یې جامې اوتو کوي چې رابه‌شینه

د دله ګانو په اختیار یم
کیسې یې اورم سترګې ښکته ګرځومه

پردي کورونه دوزخونه
مجبوره نجونې پەکې عمر تېروینه

ستا په کتو خاورې زر کېږي
ما ته دې نه راکتل، خاورې ایرې شومه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زما ویده ویده ولسه
چې را وېښېږې زه به توري خاورې یمه

و دې لیدل چې تس مې درکړ
ته مې مین کړې، زه کراره کښیناستمه

وطن نړیږي زه یې ګورم
وس مې د خدای په چارو نه‌رسي مینه

بایللی یار دې راپه یاد که
باجه دې ماته شه ژړا درونیومه

نور مې له وسه پوره نده
له ډکو سترګو به دې سترګې واړومه

عمر مې تېر شو، غم مې ډېرشو
نه مې یار هېر شو نه یې روغ له رنځه شومه

سکروټې بلې پاتې موري
لکه چې شپون جانان مې کډې کړي دینه

پر باجه پروت لالي ته وایه
ګوتې دې ځار شم، د زړه زنګ لرې کوینه

کراره شپه ده مسافر یم
ته را یادېږی څنګه سترګې پټې کړمه

شینکی پرتوګ به بیا ونکړم
یو کال مې کړی و غبرګونې لنګه شومه

منو ګلان وکړل را دورمه
د ببنوا باغ ته ځوانان راغلي دینه

کلي ته مه‌ځه په ښار راشه
په شنو ټانټو مې سترګې لګي، زړه مې چوینه

ستا د دیدن په تمه زوړ شوم
د بېلتانه امسا په لاس کې ګرځومه

که مو غوښتل چې د لیکوال نورې لیکنې له نظره تېرې کړئ، دا ځای کلیک کړئ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ